پوهاند زیا ر

# د چا ګلپېغلې غزل

له خزان زمولږي باغ مې بهارونه تېوکي
له خمسورو ګلغوټيو مې باغونه تېوکي

له ځنګل ځنګل تيارو د تورو شپو راوتی
له رنېوب رنېوب سپېدو مې سپېداروونه تېوکي

چې مې هسک رڼا رڼا شي، ګلورینه ځمکه
له پرهر پرهر مې ستوري او ګلونه تېوکي

ژنګه زړه مې باغ باغ نه شي پردې پېرد ګلو
له هر هوډ مې د يونونو مرجانونه تېوکي

له مړژواندو وچو درګو زرغونېږي غوړکې
له رغځيو مې ښېراز سره ګلګڅونه تېوکي

په هر دښت کې د تالاوالا جوپو له پلو مې
لورالور د سرو رېديو بهيرونه تېوکي

تر څو ژاړم مړې ايرې د اورتونونو به مې
له خوګلن خوګلن زما ((نو وهارونه)) توکي

د غږ سيوري په مرئ کې را وچ کړي که وخت
له غرو غرو مې د چوپتيا وو، تندرونه توکي

په پلمه د چا ګلپېغلو د ښا يست د غزل،
له انځور انځور د خيال مې ګلوييونه توکي !
۲۰۰۶-۵-۵

www.ayenda.org